مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۰۸/۱۵

# زما کندهاره

د ۱۹۸۰ کال د جنوري په میاشت کې، د شوروي اتحاد یرغلګرټانکونه د هرات له لارې کندهار ته ننوتل. په کابل کې مو اورېدل چې د هرات په دروازه کې یوه مېوه پلورونکي پر ټانکونو باندي د وزنونو او کانو ګوزارونه وکړل. تر کانو وروسته یې ټانکونه په انار ویشتل او تر خولې یې له قهره ځګونه غورځېدل. په هغه ورځ په کندهار کې د شوروي یرغل پر ضد پاڅون پیل سو. ما کندهار ته یو شعر ولیکی او د هغه ولایت د خلکو په غیرت او شجاعت مې افتخار وکړ. کلونه تېر سول. د کمونیستانو حکومت سقوط وکړ او پر افغانستان باندي مجاهدین کرام حاکم سول. د مجاهدینو حکومت پر کندهار باندي هغه حالات راوستل چې په خپل تاریخ کې یې نه وه لیدلي. پر ښار باندي غله، داړه ماران او بدکاران حاکم سول. سر، مال او ناموس ته امان نه وو. ما بیرته کندهار ته یو بل نظم ولیکی او په هغه کې مې کندهار ته وویل چې ما دي آزادي غوښتل؛ مګر دغه حال خو مي دربادي پېرزو نه وو. محترم ډاکټرصاحب حیدري د دې شعر د خپرولو غوښتنه را څخه کړې وه. د هغه له غوښتني سره سم یې افغان جرمن سایت ته لېږم.

زما کندهاره د زمرو وطنه
زما د سرکښو پښتنو وطنه
د اتلانو د کیسو وطنه
د میدانونو خرخښو وطنه
داسې مې نه غوښتي چې نن دې وینم
په تن زخمي په سره کفن دې وینم
***

نه دې هلمند هغه موجونه راوړي
نه له مستۍ په خوله ځګونه راوړي
نه د ارغند غاړې ګلونه راوړي
نه دې ترنک زاړه سېلونه راوړي
نه دې دښتو کې قافلي وینمه
نه دې کېږدیو کې ډېوې وینمه
***

نه د رابیا له مینې مست فتح خان
له کلابسته قهرېدلی روان
نه ورسره دی د برېڅو یاران
نه د مغولو په پوځ ګډ دی تالان
نه يې شپیلۍ دی په برېتو اغوستی
نه يې سرونه په نېزو اغوستي
***

نه چاته کور نه چاته بام پاته دی
نه د کیسو د شپو آرام پاته دی
نه د بیبو د خولې پیغام پاته دی
نه ښادی خان نه دلارام پاته دی
نه په زلمي مینه کې شور خوځېږي
نه په رګو کې د چا اور بلېږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

نه د احمد د توری شرنګ وینمه
نه یې لښکری نه یې جنګ وینمه
نه پانی پټ په وینو رنګ وینمه
نه سیني ځیری په خدنګ وینمه
نه مرهټیانی میندی بوری ژاړی
نه پښتني په تېرو تورو ویاړی
***
اوس دی پر کلیو جنازې را اوری
له پېغلو سترګو اوښکی سرې را اوری
له خپل قسمته درته شپې را اوری
پر سپینو ورځو دی تیارې را اوری
اوس هدیره د افسانو یې زموږ
ګور د زلمیو ارمانو یې زموږ
***
اوس له امو تر اباسینه خاوره
له وینو مسته سره رنګینه خاوره
هغه درنه هغه سنګینه خاوره
هغه تر خپل ښارګ شیرینه خاوره
ور باندی ګرځی د اورنګ آسونه
د پردی سولی پردی جنګ آسونه
***
اوس دی په لار کی رقیبان پراته دی
اوس دی په عرش کی شیطانان پراته دی
پر خزانو دی ښاماران پراته دی
په کوه قاف کی دی دېوان پراته دی
لاری کوڅي دی د اغزو ډکی دی
یاغی درې دی له لمبو ډکی دی
***
ما خوبه ستا په نوم فالونه کتل
ما له قسمت سره سوکونه وهل
ما دی په غېږه کی ګلونه لیدل
ما دی تندی کی جنتونه ویل
اوس می په زړه کی ستا یادونه ژاړی
هره غزل کی می بیتونه ژاړی
***
لا می د وران قسمت خوبونه وینم
لا دی په برخه توپانونه وینم
لا په غضب د آسمان خونه وینم
لا د ډېرو بارانونه وینم
لا به د دوست په نوم درځی غلیمان
لا به دی وژنی د لستونی ماران
***
را سه چی وینی ته دی اور درکمه
زاړه جنون ته به دی شور درکمه
خو لېونی چیغی په پور درکمه
زخمی لمبو ته به دی زور درکمه
را ځه یو مسته پیاله بنګ پورته کو
یو ځل به بیا د توری شرنګ پورته کو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

را ځه چې بيا د افسانو په ژبه
د ملالی او د عينو په ژبه
د ميوندونو  دکيسو په ژبه
څه د توپک څه د جرګو په ژبه
د وطن شپو ته مشالونه راوړو
د تيارو ښارته څراغونه راوړو
***
زما کندهاره د زمرو وطنه
رما د سرکښو پښتنو وطنه
د اتلانو د کيسو وطنه
د ميدانونو خرخښو وطنه
داسی می نه غوښتي چی نن دی وینم
په تن زخمی په سره  کفن دی وینم
ويرجينيا
۲۰۰۱-۱٥-٥


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ